هاري

واشنگټن ۰۲/۱۰/۲۰۰۸

# د افغانستان لپاره نوې ستراتيژي

د نيويارک ټايمز اخبار د سپټمبر د مياشتي پر ۳۰ ليکي: د متحده ايالاتو ستر قومندان، جنرال ډيوېډ پيټريس، په يوې مرکي کي ويلي دي چي د افغانستان شرايط او وضع ښايي نوره هم پسي خرابه سي. هغه ويلي دي: هر څوک اندېښمن دی، او بايد هم و اوسي. بل واقعيت دا دی چي په افغانستان کي له سيمو څخه به د طالبانو پاکول ډېرګران وي. هغه دغه راز د پاکستان په باب هم اندېښنه وښوده او وې ويل: په دواړو ملکونو کي د پخوا په پرتله وضع خرابه ده.

ورځپانه ليکي: په عراق کي، د جنرال پيټريس نظامي ستراتيژۍ څه مثبت بدلون را وست. جنرال پټيريس سوال مطرح کوي او وايي: له عراق څخه افغانستان ته کوم د عبرت درسونه انتقالېدلای سي؟ زه فکر کوم چي هر جنګ خپل خاص شرايط لري. بايد هر حالت پخپل ذات کي مطالعه سي. هغه زياته کړه: په عراق کي د ياغيانو پر خلاف عمليات د حالاتو په ښه کولو کي ډېره لږه ونډه لرله. په عراق کي د وضع د بهتره کېدو نور دلايل د عراق د ويښي شورا هلي ځلي، د نويو کارونو ترېنګ او خلقول، د ملي روغي جوړي پروسه، ډيلوماسي، او د ګاونډو ملکونو سره اړيکي ټينګول دي.

ښاغلي پټيريس وويل: د افغانستان لپاره د بين المللي قوې زياتول،د ځايي قوې فعالول، د ځايي اقوامو سره سياسي اړيکي ټينګول، د ځينو مخالفانو سره روغه جوړه کول، او د ګاونډي هېوادونو او په تېره بيا د سعودي عربستان نقش د طالبانو په راجلبولو کي ضروري ګامونه دي. هغه دغه راز د نړيوالي ټولني او افغاني حکومت تر مينځ پر نژدې همکارۍ باندي ټينګار وکړ.

هغه وويل: همدا اوس، د عراق ځيني برياليتبونه په افغانستان کي عملي کېږي. په تېره بيا، د ويښي شورا لاره چي غواړي پخواني ياغيان پدې قانع کړي چي وسله په مځکه کښېږدي او سوله غوره کړي. " په يوه برخه کي چي د افغانستان او عراق په مينځ کي ډېر شباهت سته هغه ملي غوره جوړه ده. تاسو نه سئ کولای چي په جنګ او وژلو برې تر لاسه کړۍ. همدا، خبره په عراق کي څرګنده سوه، او همدا خبره په افغانستان کي هم صدق کوي."

ډيلوماتان وايي په افغانستان کي د حامد کرزي هلي ځلي چي غواړي طالبان را جلب کي کاملا ناکامه سوي دي. که څه هم، ځيني طالبان او ياغيان د حکومت سره يوځای سوي دي، خو د بغاوت او ښورښ لمن لا پراخه سوې ده. حکومت لا کمزوری او بي اعتباره سوی دی. امينت او اقتصاد لا خراب سوی دی.

همدا راز، د نيويارک ټايمز اخبار د سپټمبر پر ۳۰ ليکي: جمهورريس حامد کرزی وايي څو ځله يې د سعودي عربستان څخه غوښتي چي طالبان دېته وهڅوي چي د حکومت سره د سولي خبرو ته کښېني. مګر هغه زياته کړه چي تر اوسه پوري سعودي عربستان پدې ارتباط څه ندي کړي. ښاغلی کرزي وويل افغاني استازي په پاکستان او عربستان کي د حکومتونو سره ږغيږېدلي، خو تر اوسه پوري يې کمه نتيجه نده ورکړې.

بلخوا، د طالبانو مشر ملا عمر د دوشنبي په ورځ د خارجي قواوو پر خلاف يو ځل بيا د جهاد اعلان وکړ. هغه وويل اټکل کوي چي امريکا به د شورويانو غوندي مات سي.

ښاغلي کرزي وويل: دا دوه کاله کېږي چي زه د سعودي عربستان پاچا ته پيغامونه او ليکونه استوم، او له هغه څخه د اسلامي مشر په توګه غواړم چي زموږ د امنيت په باب څه وکړي. مګر زما د پيغامونو او استازو سره سره بيا هم هيڅ بدلون ندی راغلی.

د ښاغلي کرزي د سولي او د طالبانو سره د اړيکو د نيولو خبري په داسي وخت کېږي چي افغاني سياسي مشران له ډېره وخته راهيسي د طالبانو سره په مرکو لګيا دي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de